UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**د شکنجې تورونه په لوړه کچه شتون لري، بندیانو سره قانوني چلند ته پام نه کیږي - د ملګرو ملتونو د شکنجې رپوټ**

**کابل، د ۲۰۲۱ کال د فبرورۍ ۳ مه -** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) او په ژنیو کې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د مرکزي دفتر له خوا د وروستي "شکنجې رپوټ" له مخې، چې په هرو دوو کلونو کې ترتیب او نن خپور شو، د بندیانو لخوا د افغانستان په توقیف ځایونو کې د شکنجې دتورونو کچه لوړه او له توقیف شوو کسانو سره د چلند حقونه په پراخه کچه له پامه غورځول شوي دي.

شکنجه کول او ناسم چلند چې د دواړو د افغانستان او نړیوال قانون پر بنسټ منع شوي دي، د افغانستان د حکومتي ادارو په تاسیساتو کې دوام لري، که څه هم یوناما د تیرې نظارت دورې په پرتله په تورونو کې درې سلنه کمښت ثبت کړی.

افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې، دیبرا لاینز وویل: " شکنجه هیڅکله توجیه کیدلی نشي. دا د قربانیانو، د هغوی د کورنیو او ټولنې لپاره دوامداره پایلې لري." نوموړې چې د یوناما مشره هم ده زیاته کړه: " زه د حکومت د یوشمیر وزارتونو او بنسټونو هڅې تاییدوم، مګر دې کار ته د پای ټکي ایښودو لپاره نور ډیر څه باید ترسره شي. په ځانګړې ډول، مرتکبین باید مسؤل وګڼل شي. دا به د قانون په حاکمیت باور زیات کړي او کیدای شي د سولې په راوستلو کې مرسته کوونکی لامل واوسي. "

رپوټ د ملګرو ملتونو لخوا له هغو افرادو سره د چلند په اړه د نظارت د موندنو لنډیز وړاندې کوي چې د امنیت یا تروریزم اړوند تورونو پر اساس د ۲۰۱۹ کال د جنوري له لومړۍ نیټې څخه د ۲۰۲۰ کال د مارچ د ۳۱ مې تر منځ له آزادۍ څخه بې برخې شوي دي، کله چې د ملګرو ملتونو لخوا په فزیکي توګه له توقیف خونو څخه لیدنې د کوید ۱۹ له امله وځنډول شوې. دا رپورټ د افغانستان د ۲۴ ولایتونو په ۶۳ توقیف ځایونو کې له ۶۵۶ توقیف شوو کسانو سره د مرکو پر بنسټ جوړ دی، چې پکې ۵۶۵ نارینه، ۶ میرمنې، ۸۲ هلکان او ۳ نجونې شاملې دي.

د طالبانو او نورو دولت ضد عناصرو تاسیساتو ته د نه لاسرسي له امله، رپورټ یوازې حکومتي تاسیساتو ته کتنه کړې.

د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو له خوا ۳۰,۳ سلنه دشکنجې او ناسم چلند پیښو باوري تورونه ثبت شوي دي چې د ۲۰۱۷- ۲۰۱۸ کلونو د ۳۱,۹ سلنې څخه یې کچه ټیټه ده.

د افغان ملي پولیسو په توقیف ځایونو کې د شکنجې تورونه ۲۷,۲ سلنه ثبت شوي دي، چې د تیرو ۳۱,۲ سلنه ثبت څخه کموالی په ګوته کوي.

د ملي امنیت ریاست په توقیف ځایونو کې د شکنجې تورونه له ۱۹,۴ څخه ۱۶ سلنې ته یاد داشت شوي دي.

رپورټ د شکنجې په مخنیوي کې د داخلي میکانیزمونو مهم رول په ګوته کوي، په ځانګړې ډول د ملي امنیت د بشري حقونو افسران چې د توقیف ځایونو څخه لیدنې کوي. همداشان، د لویې څارنوالۍ دفتر د شکنجې ضد کمیټې لخوا د ۲۰۱۸ کال د جزا قانون مطابق د شکنجې جرم محاکمه کولو هڅې د پام وړ دي.

د افغانستان حکومت لخوا د پام وړ پرمختګ او هڅو سره سره، دا لاهم یوه جدي اندیښنه ده چې د ټولو مرکه شویو څه باندې ۳۰ په سلو کې د ځورونو او ناسم چلند ډاډمن او باوري رپوټونه ورکړیدي.

د توقیف شوو کسانو له خوا د تورونو په شمېر کې له یوشمیر سیمه ییزو توپیرونو څخه یادونه شوې. په ځانګړې ډول په کندهار کې د ملي پولیسو په اړه د شکنجې او ناسم چلند ډیری تورونو شتون درلود، چې ۵۷,۷ سلنه شکایتونه ترې شوي و. رپوټ همدارنګه په قصدي ډول د ورکو شویو کسانو یو لړ اندیښمنونکي رپوټونه یادابنت کړي چې ګواکې د کندهار په ملي پولیسو پورې اړه لري.

په راپور کې راغلي چې لاهم د پام وړ بهبود ته اړتیا ده تر څو دغه حقونه خوندي شي. د بیلګې په توګه، د ملي پولیسو یا ملي امنیت لخوا د توقیف په هیڅ یوه قضیه کې، توقیف شوي کسان د خپلو حقونو څخه نه دي خبر شوي چې کولای شي مدافع وکیل ته لاسرسی ولري، یا د چارواکو لخوا تر پوښتنو دمخه د طبي معایناتو لپاره تللي وي. د توقیف شویو کسانو اجازه چې وکولای شي

UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

له نیول کیدو وروسته په لومړیو ورځو کې له خپلو کورنیو سره اړیکه ونیسي په ټیټه کچه پاتې شوې، چې د ملي پولیسو توقیف ځایونو کې ۲۷,۲ سلنه او د ملي امنیت توقیف ځایونو کې ۱۹,۷ سلنه جوړوي.

د نورو اندیښنو له منځه یوه داده چې د افغانستان ملي امنیت او ملي پولیسو لخوا د بندي شویو نژدې نیمايي کسانو ویلي له دوی څخه غوښتل شوي چې هغه سند لاسلیک یا ګوته پرې ولګوي چې دوی یې په محتوا ندي خبر. رپوټ د ملي امنیت په توقیف خونو کې په جلا او منزوي ډول د بندیانو د ساتل کیدو په اړه ځانګړې اندیښنه څرګندوي.

د نورو اقداماتو سربیره، یوناما د شکنجې د مخنیوي په هکله د شکنجې اړوند د خپلواک ملي میکانیزم جوړولو وړاندیز کوي چې له شکنجې سره د مبارزې کنوانسیون په اختیاري پروتوکول کې تشریح شوی دی. د دا ډول ځانګړي شوي میکانیزم جوړول کولای شي د توقیف ټولو تاسیساتو تفتیش کولو، تعقیبي پلټنو ترسره کولو او د عاملینو د تعقیب او اصلاحي سپارښتنو په اړه صلاحیت، لوړ ظرفیت او تجربه ولري. د داسې میکانیزم رامینځته کول به د افغان حکومت او نړیوالې ټولنې ګډ او دوامداره ملاتړ ته اړتیا ولري. یوناما د توقیف شویو سره د چلند نظارت ته دوام ورکوي او د افغان چارواکو او نړیوالو ملګرو سره په ګډه کار کوي ترڅو مثبت بدلون رامنځ ته کړي.

بشپړ رپوټ دلته ولولئ:

https://unama.unmissions.org/treatment-conflict-related-detainees-afghan-custody

* * *

*یوناما د افغانستان له خلکو او حکومت څخه سولې او ثبات ته د رسیدو لپاره ملاتړ کوي. د سیاسي ماموریت په توګه له خپل ماموریت سره سم، یوناما د شخړې مخنیوی او حل، د ونډې اخیستنې د زیاتیدو او ټولنیز یووالي او همدارنګه د سیمه ییزو همکاریو د پیاوړتیا ملاتړ کوي. دا ماموریت د اغیزمنې حکومتدارۍ ملاتړ کوي، ملي مالکیت او حساب ورکوونکو بنسټونو ته چې بشري حقونو ته د درناوي پر بنسټ جوړ شوي، ملاتړ کوي. یوناما د استقلالیت، بې پرې والي او یووالي د اصل په پام کې نیولو سره د ډیپلماتیکو اقداماتو په ګډون د شخړو د زیاتیدو او پراخیدو دمخنیوي په موخه ' د ښه نیت چارې' او نور کلیدي خدمتونه برابروي. دا ماموریت د افغانانو پرمختګ او بشري لومړیتوبونو لپاره نړیوالې مرستې همغږې کوي.*